Flüchtlingsrat
Niedersachsen e.V.

**Geschäftsstelle:**
Röpkestr. 12
30173 Hannover

Karim Alwasiti
ka@nds-fluerat.org
www.nds-fluerat.org

Tel: 0511 - 982460-32
Fax: 0511 - 982460-31

**محلی کار کوونکی- المان ته په رارسیدو باندی ، باید لاندی ټکو ته پاملرنه او توجه وکړی ...**
**دځانګړو دلایلو په بنسټ محلی کار کوونکو ته المان (جرمني ) ته په رارسیدو لاندی سپارښتنې کوو.**
**ددی لپاره چه تاسی ته دافغانستان نه دالمان د اردو د وتلو نه وروسته خطر متوجه وه نو ستاسو ته جرمنی د قبول کیدو ژمنه کړی ده :**

کی دپناه اخستلو غوښتنه مه کوی .تاسو ته جرمنی دقبولولو موافقه خط او ویزه غه موافقه او ویزه دالمان د اقامت دقانون د 22 مادی په اساس شوی ده . تاسو ته د اقامت او استوګنې حق او دکار اجازه درکړل شوی ده نو تاسی ضرورت نه لري چه دپناه اخستلو غوښتنه وکړی ، که تاسی داکار وکړی، نو د اقامت حق مو لغوه کیږی.

- تاسی اکثرو ته د ویزې د اخستلو په وخت کی په افغانستان دالمان د 16 ایالتو نه یو معرفی شوی دی .داکار دالمان دکونیګ شتانیر شلوسل په اساس شوی دی . تاسو اکثرو ته په یوه فورمه کی په جرمني کی ځای ټاکل شوی دی.. چه ځنی وخت نه لوستل کیږی ځکه چه دلاس په خط لیکل شوی دی .مهربانی وکړی په خپلو اسناد کی وګوری چه تاسوته دالمان کوم ایالت ټاکل شوی دی.

- کله چه معلومه نه وی او یا ستاسو په اسناد کی تصمیم نه وی نیول شوی چه کوم ایالت ته ځی نو تاسو د BAMF دادارى نه پوښتنه وکړی ،چه تاسی ته کوم ځای ټاکل شوی دی ؟ ستاسو سره په دی هکله مشورتي دفترونه او دمهاجرینو شورا مرسته کولای شی.

- کله چه تاسو ته دځای په ټاکلو کی تصمیم نه وی نیول شوی نو تاسو کولای شی چه دځای دټاکلو لپاره خپل دلایل وړاندې کړی . ولی په هغی کار نه کیږی. تاسو ته سپارښتنه کیږی چه تاسو خپل ځان، تاسو ته ټاکل شوی ځای ته ورسوی . تاسو نشی کولای چه هر ځای کی مو چه خوښه شی ژوند وکړی . که تاسی اوس دخپلوانو یا ملګرو په کور کی ژوند کوی ،تاسو مجبور یی چه لومړی خپل ځان هغه ځای ته ورسوی کوم چه ستاسو لپاره ټاکل شوی دی او هغه تصمیم چه دځای دټاکلو لپاره ستاسو په هکله نیول شوی عملی کړی.

- کله چه ټاکل شوی ځای ته ورسیدی نو مجبور یی چه دبهرنیانو د چارو دفتر ( Ausländerbehörde) ته لاړشی .
تاسو ته دالمان د اقامت د 22 مادی په اساس ددری کالو لپاره داوسېدو او کار اجازه درکول کیږی. تاسو باید تاسو ته په ټاکل شوی ځای کی ژوند وکړی تر هغه وخته پوری چه خپله عاید او دخل ونه لري تاسو باید دخپل ژوند دکولو دمصارفو په خاطر دکار مرکز -Job Center ته مراجعه وکړی.

- تاسو باید دخپلی روغتیایی بیمی لپاره دروغتیا دبیمی دفتر ته ورشی
تاسو ته چه کوم ځای داستوګنې لپاره په منطقه کی ټاکل کیږی تاسو باید هلته استوګن شی .تاسو په ټاکل شوی کور کی په هستوګنه مجبور یی. تر څو پور چه په دولتی مرستو ژوند کوی . ددی معنی داده چه تاسی سفر کولای شی او مجلسونو کی ګډون کولای شی ولی دا اختیار نه لری چه استوګن ځای بدل کړی . ددی قانون نه هغه کسان مستثنی دی کوم چه دخپل کورنی دغړو ، میرمن او ماشومانو سره یو ځای کیدل غواړي او یا چه کله تاسی په یو بل ځای کی کار پیدا کړو چه دهغی کار نه دکورنی دټولو غړو ژوند تامین شی او یا د

Flüchtlingsrat Niedersachsen e.V.

سختو شرایطو دلرلو په خاطر تاسی ته د نقل مکان اجازه درکړل شی.

- په دی هکله په خپله منطقه کی مشورتي دفترو ته مراجعه وکړی . لکه په وړکتون کی دماشومانو داخله، په مکتب دماشومانو داخله ، طبی تجهیزات او د معیوبینو دضرورت شیان.